## د پوښتنې ځواب

## ایا دا روا ده چې یو کور له جوړیدو وړاندې، د سلم بیعې یا استصناع(جوړولو) د حکم مطابق وپېرل شي؟

**ښاغلیو یوسا اولفا، هافید مناصیر او فراز محمد فاتح ته:**

**(ژباړه)**

**د یوسا اولفا پوښتنه:**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زموږ قدرمن شیخ صاحب، الله سبحانه تعالی دې ستاسې ساتندوی او مرستندوی شي.

زه یوه پوښتنه لرم: ایا د جوړولو (استصناع) د تړون مطابق د یو کور خرڅول روا دي؟ د بېلګې په ډول یو سړی ځمکه لري او پر بل شخص یې د استصناع د تړون مطابق خرڅوي، داسې چې خرڅونکي به پر دې ځمکه کور جوړوي. د دې کور ټول مشخصات، ساحه، د کوټو شمیر، په کور کې کاریدونکي ساختماني مواد او نور ټول شیان به په قرارداد کې واضح شوي وي. دا کور به تر ټاکلي مودې وروسته تسلیمېږي او مبلغ به یې ټول مخکې له جوړېدو یا نیمایي له جوړېدو وړاندې او پاتې له جوړېدو وروسته ورکول کیږي. ایا دا ډول بیعه روا ده؟

جزاک الله خیراً. والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

د **هافید مناصیر پوښتنه:**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

عزتمن شیخ صاحب، ما د استصناع په اړه وضاحت غوښتی. ایا دا یو ډول بیعه ده؟ ایا موږ ته دا روا ده چې د ځمکې له مالک سره قرارداد وکړو، چې ته پر خپله ځمکه کور جوړ کړه او تر جوړولو وروسته به زه دواړه، ځمکه او کور درڅخه وپېرم؟

جزاك الله خیراً كثیراً

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

د **فراز محمد فاتح پوښتنه:**

السلام علیکم زموږ امیر صاحب!

ستاسو د بشپړې روغتیا هیله لرم!

زه غواړم د یوې پوښتنې په اړه چې په ورستیو کې تاسو په لاندې لینک کې ځواب کړې ده، پوه شم.

https://www.facebook.com/AmeerhtAtabinKhalil/posts/768605850003155

که چیرې څوک د قسط د تړون پر بنسټ یوه ځمکه یا موټر وپیري، نو د دې حکم څه دی چې پېرېدونکی یوازې د ټول مبلغ تر ورکړې وروسته د شي څښتن کېدای شي. یا په ځینو حالتو کې پېرېدونکی تر قرارداد لږ وروسته د شي څښتن کېږي. په داسې حال کې چې د پیسو تادیه د قسط په بڼه ادامه لري.

پورته حالاتو ته په کتو یو بل حالت هم شته: که یو څوک وغواړي، خپل موټر یا ځمکه د پیسو له بشپړې تادیې مخکې، په همدې منځ کې وپلوري، بیا دریم شخص پاتې مبلغ لومړي خرڅونکي شخص ته تادیه کوي، په داسې حالاتو کې د دې ډول بیعې شرعي حکم څه دی؟

جزاک الله خیراً

ستاسې ورور، فراز

**ځواب**

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته

ستاسې پوښتنې سره ورته دي، په تاسې کې ځینو د یوه کور - چې تراوسه جوړ شوی نه وي- د پېرودلو په اړه پوښتنه وکړه، دې بیعې ته سلم بیعه وایي. ځینو په تاسو کې د کور د خرڅولو خبره وکړه، حال دا چې تراوسه تکمیل شوی نه وي، دې ته د استصناع(جوړولو) عقد وایي. موږ وړاندې همدې ته ورته د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي وو، د یوه داسې کور پېرودل، چې تراوسه تکمیل شوی نه وي، د سلم یا استصناع بیعې تر حکم لاندې نه شي راتلای. وضاحت یې په دې ډول دی:

لومړی: د یوه داسې شي پلورل، چې پلورونکی یې څښتن نه وي، روا عمل نه دی.

په دې اړه ګڼ احادیث شته:

سنن الترمذي له حکيم بن حزام څخه روايت کوي:

"أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقُلْتُ: يَأْتِينِي الرَّجُلُ يَسْأَلُنِي مِنَ البَيْعِ مَا لَيْسَ عِنْدِي، أَبْتَاعُ لَهُ مِنَ السُّوقِ، ثُمَّ أَبِيعُهُ؟ قَالَ: «**لَا تَبِعْ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ**»"

**ژباړه:** «زه رسول الله صلی علیه وسلم ته راغلم او پوښتنه مې ترې وکړه: اې د الله رسوله صلی علیه وسلم، يو سړی ما ته راځي او زما څخه د يوه داسې شي د پېرودلو غوښتنه کوي، چې زما په ملکيت کې نه دی. ايا زه کولی شم دغه شی د ده لپاره له بازار څخه وپېرم؟ ويې فرمايل: «هغه څه مه خرڅوه، چې ته يې څښتن نه يې.»

ترمذي له عبدالله بن عمر څخه روايت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

**«لَا يَحِلُّ سَلَفٌ وَبَيْعٌ، وَلَا شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ، وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ، وَلَا بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ»**

**ژباړه:** «دا روا نه ده چې پور دې له پلور سره يو ځای ورکړل شي (له پلورونکي څخه په پور شوو پيسو دې شی وپېرل شي). دا هم روا نه ده چې په يوه بيعه کې دوه شرطونه راشي. دا هم روا نه ده چې پر يوه داسې شي ګټه وشي، چې د چا په اختيار کې نه وي او دا هم روا نه ده چې داسې شی خرڅ شي چې لا هم ستا په ملکيت کې نه وي».

له همدې امله جايز نه ده چې يو کور يا اپارتمان دې له جوړېدو وړاندې خرڅ شي، ځکه تراوسه د چا ملکيت نه دی ګرځېدلی. دا خو پرېږده چې بيخې وجود ونه لري او جوړ شوی نه وي. په دې مانا، **هغه اپارتمان چې تراوسه پورې تکميل شوی نه وي، پلورل يې جايز نه دي**. ځکه هغه څه چې پلورل کېږي -يعني اپارتمان- هغه تر اوسه موجود شوی نه دی. د اپارتمان د پلور د روا کېدو لپاره اړينه ده چې اپارتمان هغسې موجود شي چې يو اپارتمان ورباندې پوره کېږي لکه: تهداب، ميلان، د کوټو چتونه، او داسې نور، چې د عرف له مخې د يوه اپارتمان لپاره اړين دي  او وښيي چې اپارتمان جوړ او سپارل کېدو ته اماده دی.

دوهم، يوه استثنا شته چې په شرعي نصوصو کې يې ذکر شوی دی. دې ډول پېر او پلور ته په دوه ډوله حالاتو کې اجازه ورکوي: سلم او استصناع، خو د پېر او پلور دا دوه حکمونه موږ پر نا تکميل شوو اپارتمانو نه شو پلي کولای. وضاحت يې په دې ډول دی:

**لومړی؛ سلم بيعه:**

**۱: د سلم بیعه:** «پلورونکی ژمنه کوي، چې رانیوونکي ته به مشخص شوي توکي پر یوه ټاکلې نېټه د مخکې تادیه شوي مبلغ په مقابل کې ورکوي. په دې مانا چې د نقدو پیسو په مقابل کې د سوداګریز توکي رانیول، خو شی به څه موده وروسته پېرودونکي ته تسلیمېږي».

دا بیعه په اسلام کې جایزه ده، او په دې بیعه کې چې کوم ټکی په پام کې نیول کېږي هغه، وزن او شمېر دی. لکه څنګه چې د اسلامي شخصیې په دوهم جلد کې راغلي دي:

د سلم بیعې جایز والی په سنت سره ثابت دی، چې روایت یې ابن عباس کړی دی. دی وایي:

«**قَدِمَ النَّبِيُّ** صلى الله عليه وسلم **الْمَدِينَةَ وَهُمْ يُسْلِفُونَ فِي الثِّمَارِ السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ فَقَالَ: مَنْ أَسْلَفَ فِي تَمْرٍ فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ**»

**ژباړه:** «رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله مدینې ته راغی دوی دا ډول بیعې کولې، چې د مېوو د حاصلاتو پیسې به یې یو، دوه او درې کاله مخکې ورکولې، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر څوک چې مخکې له مخکې د یوه جنس پیسې تادیه کوي، نو باید د جنس اندازه او وزن معلوم کړي او دقیقه نېټه یې هم باید وټاکي». [مسلم]

عبدالرحمن بن ابزه او عبدالله بن ابی اوفی وایي:

«**كُنَّا نُصِيبُ الْمَغَانِمَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ**صلى الله عليه وسلم**فَكَانَ يَأْتِينَا أَنْبَاطٌ مِنْ أَنْبَاطِ الشَّأْمِ فَنُسْلِفُهُمْ فِي الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالزَّبِيبِ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى، قَالَ: قُلْتُ أَكَانَ لَهُمْ زَرْعٌ أَوْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ زَرْعٌ؟ قَالاَ: مَا كُنَّا نَسْأَلُهُمْ عَنْ ذَلِكَ**»

**ژباړه:** موږ چې کله د الله له رسول صلی الله علیه وسلم سره وو نو غنیمتونه به رارسېدل او چې کله به د شام کروندګر موږ ته راتلل، دا زموږ عادت و چې د غنمو، وربشو او غوړیو لپاره به مو مخکې له مخکې پیسې ورکولې، البته د رسید نېټه به معلومه وه. ما پوښتنه وکړه، «ایا له کروندګرو سره دا کښتونه موجود ولاړ وو او که نه؟» هغوی راته وویل، «موږ د شام له بزګرانو څخه په دې اړه پوښتنه نه ده کړې». (البخاري)

او په یوه بېل روایت کې راځي:

«**إِنَّا كُنَّا نُسْلِفُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ** صلى الله عليه وسلم **وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ فِي الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ إِلَى قَوْمٍ مَا هُوَ عِنْدَهُمْ**»رواه أبو داود.

**ژباړه:** «موږ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه او د ابوبکر او عمر په وختو کې هم د غنمو، وربشو، خرما او ممیزو پیسې د دې اجناسو له رسیدو نه وړاندې ورکولې. هغوی داسې خلک وو، چې دا اجناس به هغه مهال نه وو ورسره موجود». (ابو داود)

له دې ټولو احادیثو څخه دا په څرګند ډول ثابتېږي چې سلم بیعه روا ده. دا چې په کومو شیانو کې سلم بیعه روا ده او په کومو شیانو کې نه ده روا، هغه په حدیث او اجماع کې څرګند شوي دي. سلم داسې یوه بیعه ده چې شی د پېرودونکي په ملکیت کې نه وي راغلی او د هغه شي پلورل چې تراوسه جوړ شوی نه وي، حرام دي. سلم په نصوصو کې له نورو څخه بېل شو او حرمت یې هم په نورو نصوصو واضح شو. له همدې امله هغه شیان چې په سلم بیعه کې روا دي هغه ټاکل شوي دي. له نصوصو څخه په استنباط موږ دا وموندل چې سلم بیعه په ټولو هغو شیانو کې چې اندازه کېږي او تلل کېږي روا ده او په هغو اجناسو کې هم روا ده، چې شمېرل کېږي.

د تلل کېدونکو او اندازه کېدونکو اجناسو سلم بیعه له دې حدیث څخه ثابتېږي. ابن عباس وايي:

«**قَدِمَ النَّبِيُّ** صلی الله علیه وسلم **الْمَدِينَةَ وَهُمْ يُسْلِمُونَ فِي التَّمْرِ السَّنَتَيْنِ وَالثَّلَاثَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ** صلی الله علیه وسلم: **مَنْ أَسْلَفَ فَلْيُسْلِفْ فِي ثَمَنٍ مَعْلُومٍ، وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ**»

**ژباړه:** «رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله مدینې ته راغی دوی دا ډول بیعې کولې، چې د مېوو د حاصلاتو پیسې به یې یو، دوه او درې کاله مخکې ورکولې، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر څوک چې مخکې له مخکې د یوه جنس پیسې تادیه کوي، نو باید د جنس اندازه او وزن معلوم کړي او دقیقه نېټه یې هم باید وټاکي».

بداية المجتهد و نهاية المقتصد، ابن رشد الحفيد.

په یوه بل روایت کې ابن عباس رضي الله عنه وایي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**مَنْ أَسْلَفَ فِي شَيْءٍ فَفِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ**».

**ژباړه:** «هر هغه څوک چې د یو جنس پیسې له وړاندې تادیه کوي، باید وزن، اندازه او د ورکړې نېټه یې دقیقه معلومه کړي». (البخاري)

له دې څخه څرګنده شوه چې تادیه کېدونکې پیسې د تلل شویو او اندازه شویو اجناسو په مقابل کې ورکول کیږي. شمیرل کیدونکي اجناس هم پکې راځي او په خوراکي توکو کې سلم بیعه روا ده.

دغه اجماع د ابن المنذر له لورې را نقل شوې ده. له بخاري څخه روایت دی، دی وایي شعبه موږ ته خبر راکړ چې محمد یا عبدالله ابن ابي المجالد ما ته وویل:

**«اخْتَلَفَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ شَدَّادِ بْنِ الْهَادِ وَأَبُو بُرْدَةَ فِي السَّلَفِ فَبَعَثُونِي إِلَى ابْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ: إِنَّا كُنَّا نُسْلِفُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ** صلى الله عليه وسلم **وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ فِي الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ».**

**ژباړه:** «د عبدالله بن شداد بن الهاد او ابو برده تر منځ پر سلف (مخکې تادیه شویو پیسو) باندې اختلاف راغی. هغوی زه ابن اوفی ته ولیږلم او ما له هغه څخه په دې اړه پوښتنه وکړه. هغه په ځواب کې راته وویل: مونږ به د رسول الله صلی علیه وسلم په زمانه کې مخکې له مخکې پیسې تادیه کولې(سلف) د ابوبکر او عمر په زمانه کې مو همداسې کول د اوړو، اوربشو، خرما او ممیزو لپاره.»

له دې څخه په خوراکي توکو کې د سلم د بیعې راو والی ثابتیږي او خوراکي توکي همیشه اندازه، تلل او یا هم شمېرل کیږي. ټول قیمت شوي، اندازه شوي، وزن شوي او شمېرل شوي خواړه په دې حکم پورې تعلق پیدا کوي او دا داسې شی دی لکه په ملکیت پورې چې تعلق لري. ځکه دا داسې شیان دي چې باید ترلاسه شي لکه د ربا الفضل (سود) تعلق په شي پورې. د سود حالت داسې دی چې په اندازه، وزن او شمېر کې زیاتوالی په ربا کې حسابېږي. سلم هم د شي په اندازه کېدلو، وزن کېدلو او شمېرل کېدلو پورې تعلق پیدا کوي. په حدیث کې داسې نص راغلی چې د هغو شیانو په اړه جواز ورکوي چې اندازه کېږي او وزن کېږي خو د شمېرل کېدو یادونه نه ده شوې. د سلم بیعې په اړه اجماع بیا په خوراکي توکو کې سلم په هغه صورت کې روا ګڼي چې شمېر یې هم ښودل شوی وي. په هرحال، هغه توکي چې په سلم بیعه سره خرڅېږي مشخصات یې باید په سهي توګه ذکر شي: لکه حوراني غنم، برني خرماوې، مصری پنبه، هندي وریښم او ترکي انځر. وزن او اندازه یې هم باید دقیقه وي لکه د شام پیمانه، عراقي پاونډ، کیلو ګرام او لیټرونه. یعنې دا اړینه ده چې اندازه او وزن یې باید پېژندل شوي او مشخص شوي وي.

د هغه متن پای چې د اسلامي شخصیې کتاب په دوهمه برخه کې راغلی و.

له همدې امله سلم بیعه یوازې په هغه شي کې روا ده چې اندازه او وزن یې معلوم وي او شمېر یې هم ښودل شوی وي.

۲- د دې د پېژندلو لپاره چې د مالونو واقعيت ته په کتو دوی اندازه، وزن او وشمېرل شي او يقيني شی چې دا مثلية (وزن شوي، اندازه شوي او نور.) اموال او قيمية (ارزښت لرونکي) اموال دي:

مثلية اموال هغه دي چې د اندازې، وزن او شمېر له مخې يې پېر او پلور کېږي، ياني په بازار کې اندازې يا وزن ته په کتو په کيلوګرام پلورل کېږي يا لکه مڼې، نارنج او هندوانې چې په شمېر سره پلور کېدای شي. د يادو شيانو پلورل د سلم بيعې په مټ روا دي. لکه څرنګه چې پورته د اسلامي شخصيې په کتاب کې يادونه ترې شوې. همدا راز امام نووي په خپل کتاب روضة الطالبين کې د" وفي ضبط المثلي أوجه" تر عنوان لاندې، په ۵ مه برخه صفحه ۱۸ او ۱۹ کې د مثلي مال د تنظيم لپاره پنځه ځانګړتياوي يادې کړې دي. دی په پای کې وايې (دوهمه طريقه صحيح ده، خو غوره دا ده چې ووايم: مثلي هغه څه دي چې د اندازې او وزن له مخې محدودېږي او سلم بيعه يې روا ده) پای.

قيمية اموال هغه اموال دي چې د اندازې، وزن او شمېر له مخې يې پېر او پلور نه کېږي؛ لکه کور، خو هر کور د هغه د موقعيت، د جوړېدو د کيفيت، بازار ته د نژدېوالي او لېري والي او نورو ښېګڼو له مخې پلورل کېږي. له همدې امله سرای د سلم بيعې له مخې نه پلورل کېږي، ځکه نه اندازه کېږي، نه وزن کېږي او نه شمېرل کېږي؛ دا مثلي مالونه نه دي چې د سلم بيعې له مخې وپلورل شي.

نو يو  ناتکميل شوی سرای په سلم بيعه کې نه راځي او شرعي دلايل يې هم نه پرې پلي کېږي. له همدې امله هغه احاديث چې د پلور لپاره د شي د ملکيت په تړاو راغلي پر دې د پلي کېدو وړ دي.

**دوهم: جوړول (استنصاع)**

استنصاع (جوړول) په ژبه کې د استصنع ( د يو شي د جوړولو لپاره د غوښتنې) مصدر دی.  دا داسې ويل کېږي: پلانکي دروازه جوړه (استعنع) کړه، يعني که يو څوک له يو چا څخه غوښتنه وکړي چې د ده لپاره يوه دروازه جوړه کړي، لکه اکتتب يعنې ده يو چا ته دستور ورکړ چې ليکل ورته وکړي. (لسان العرب والصحاح وتاج العروس مادة: "صنع"). دا د جوړولو غوښتنه ده، يو تن غواړي چې يو شی د ده لپاره جوړ شي،  نو جوړوونکي (المستصنِع) ته ځي چې يو ځانګړی شی ورته جوړ کړي. له هغه سره پر يوه بيه هوکړه کوي او جوړوونکي ته د شي تر جوړېدو مخکې پيسې ورکوي. دغه ډول پلور له هغه خرڅلاو څخه بېل دی چې شی ستا سره موجود نه وي او د دې دليل د استنصاع (جوړولو) په اړه په اقتصادي نظام کتاب کې راغلی:

(تولیدول هغه دي چې یو تن د خپل ځان لپاره له بل تن څخه د یوې بېړۍ یا موټر د جوړولو غوښتنه وکړي چې په صنعت کې شامل شیان دي. د تولید تړون روا دی او په سنتو کې د هغه لپاره سپیناوی شته. رسول الله صلی الله علیه وسلم د مهر (ټاپې) جوړولو لپاره غوښتنه کړې ده.) انس (رض) وایي:

**«صَنَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم خَاتَماً»**

***ژباړه:*** «رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ګوتمۍ جوړه کړه.»

امام بخاري له ابن مسعود (رض) څخه روایت کوي چې وایي:

**«أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم اصْطَنَعَ خَاتَماً مِنْ ذَهَبٍ»**

***ژباړه:*** «رسول الله صلی الله علیه وسلم له سرو زرو څخه یوه ګوتمۍ جوړه کړه.»

رسول الله صلی الله علیه وسلم همدارنګه د منبر (دریځ) جوړولو غوښتنه کړې ده. بخاري له سهل (رض) څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوې ښځې ته ورغی او ورته وېې فرمایل:

**«بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم إِلَى امْرَأَةٍ أَنْ مُرِي غُلَامَكِ النَّجَّارَ يَعْمَلُ لِي أَعْوَاداً أَجْلِسُ عَلَيْهِنَّ».**

**ژباړه:**«خپل هغه نجار غلام ته دستور ورکړه چې زما لپاره د کښېنستو یوه تخته جوړه کړي.»

"خلکو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې شیان جوړول او ده صلی الله علیه وسلم یې په اړه څه نه ویل" نو د ده خاموشي او کړنه د تولید (جوړول) په تړاو د ده صلی الله علیه وسلم تایید دی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم تایید او کړنه د ده د ویلو په څېر شرعي دلیل دي. هغه څه چې د جوړولو قرارداد یې شوی وي له هغو شیانو لکه مهر، منبر، الماری، موټر او داسې نورو شیانو سره ورته دي. له دې اړخه، تولید د پلورلو یوه بڼه ده، نه د ګمارلو. خو که یو څوک تولیدونکي ته خام مواد راوړي او له هغه څخه غوښتنه وکړي چې یو ځانګړی شی ورته جوړ کړي، نو دغه بیا د استخدام یوه بڼه ده. په ټولنه کې د هر امت او خلکو لپاره صنعت د اقتصاد یوه ستن ده. صنعت په تېر کې یوازې د لاس کار و. کله چې انسانانو د بخار پر مټ ماشینونو او فابریکو ته مخه کړه په دې سره په تدریجي ډول صنعتي کار د لاسي کار ځای ونیو. کله چې د صنعتي انقلاب په ترڅ کې نوې اختراعګانې وشوې، تولید له تمې هاخوا ډېر شو او ماشیني فابریکې د اقتصاد د ملا یو نوی تیر شو.

د ماشیني او لاسي فابریکو مقرارت له مشارکت، استخدام، پلور او بهرنۍ سوداګرۍ څخه عبارت دي. فابریکه ډېر لږ وخت د یوه تن له خوا تاسیسېږي، خو ډېری وخت د ګڼو کسانو د ونډو په مټ تاسیسېږي. له همدې امله

د اسلامي فابریکو مقرارت پرې پلي کېږي. که څه هم په فابریکو کې د مدیریت، تولید یا له هغوی پرته په نورو برخو کې د کار کولو په تړاو، د استخدام مقرارت پلي کېږي. د ویش او تولید په برخه کې د پلور او بهرنۍ سوداګرۍ مقرارت پلي کېږي. له همدې لارې د چل، فریب او انحصار مخه نیول کېږي، کله چې د شیانو بیې ټاکل شوې او د پلور اصول په پام کې نیول شوي وي. فابریکو ته د جنس له تولید مخکې د هغه د فرمایش ورکولو په برخه کې -که هغه لوی جنس وي او که کوچنی- د تولید اصول په پام کې نیول کېږي. شریعت په هغه صورت کې په پام کې نیول کېږي چې  فابریکې کوم شی د پېرودونکي لپاره تولید کړی وي، ایا مشتري د هغه په اخیستلو مکلف دی او که نه. پای

فقها د استصناع (تولید) په تړاو بېلابېل نظریات لري، ځینې پر هغو موادو چې د فابریکو له لوري د تولیدي کارپوهانو له سپارښتنې سره سم کارول کېږي تمرکز کوي او پر هغه تولید شوي جنس چې هغه مثلي یا قیمية دي هیڅ تمرکز نه کوي. د بېلګې په ډول ښايي دا سپر، ټانک، الماري یا هم یو موټر وي او له همدې امله د شریعت حکم د تولید پر موادو باندې تمرکز کوي چې تولیدي کارپوهانو ته معلوم وي چې هغه تولیدي مواد دي، نو له همدې امله استصناع (تولید) په بیع سلم کې نه شاملېږي، خو دا د پیر او پلور ځانګړی ډول دی چې د تولید مخکې تړون شوی وي.

دا د استصناع په اړه چې (سلم) نه دی، د حنبلي او حنفي علماوو نظر دی چې یو له بل سره یو څه اختلاف هم لري:

- حنبلي علما وايي: استصناع د یو داسې جنس پلورل دي چې یو څوک یې څښتن نه وي، خو د سلم په څېر نه. د دوی په اند کله چې د جوړولو د پلور په اړه خبره کېږي دا ټول د پلورلو او د هغه په شرایطو کې راځي. (كشاف القناع 132/3 ط أنصار السنة المحمدية).

حنفي علما بیا بېل نظریات لري؛ ځینې له دوی څخه یې په سلم کې نه راولي، بلکې تر استصناع لاندې یې راولي: (... که یو تن یو بل کاسب کس ته ووايي: داسې یو جنس د دومره پیسو په مقابل کې زما لپاره جوړه کړه او جوړونکی هغه ومني، نو د حنفي علماوو په اند دا د استصناع تړون دی) (المبسوط السرخسي ١٣٨/١٢ ط السعادة)

ځیني نور بیا استصناع د مودې په توپیر سره سلم ته ورته ګڼي (استصناع په ډېره کچه له سلم بیعې سره ورته ده، هغه څه چې په الذمه کې بیان شوي دي هغه د سلم بیعې اصطلاح ده، حنفي علماوو د استصناع موضوع له سلم بیعې سره یوځای کړې ده. مالکي او شافعي علماوو هم همدغه کار کړی دی، خو سلم بیع د تولید او

نورو لپاره عامه ده. استصناع هغه څه دي چې توليدول په هغه کې لازمي دی او سلم د پيسو په ورکولو کې بيړه ده، په داسې حال کې چې ډېرى حنفي علما په بيړه د استصناع يا توليد سپارل يو شرط نه ګڼي...) [فتح القدير ۳۵۵/۵، البدايع ٢٦٧٧/٦، المبسوط ١٣٨/١٢ او نور.]

- مالکي او شافعي علماء استصناع د بيع سلم يوه برخه ګڼي، کله چې د يو جنس د توليد په موخه يو چا ته مخکې له مخکې د پيسو ورکولو خبره کېږي، نو پر استصناع د بيع سلم احکام او تعريف پلى کوي. [روضته الطالبين ۲٦/۴ او تر هغه وروسته المکتب الاسلامي او المهذب ۱/-۲۹۸ ۲۹۷ عيسى الحلبي]

له پورته ځواب څخه روښانه شوه چې استصناع، که څه هم حکم يې پر صنعتي او توليدي موادو باندې تمرکز کوي، خو پر ودانۍ يې حکم نه پلى کېږي. ځکه چې هم د ژبپوهنې له اړخه او هم په عادي حالت کې د صنعت لفظ د ودانيو لپاره نه کارېږي. ځکه چې ودانۍ تر جوړېدو مخکې پاتې وي چې دا يې پر وجود دلالت کوي، داسې چې ګواکې د هغوى بنسټونه، ستنونه او چتونه جوړ شوي نه وي.

پر يادو ودانيو باندې د پلورلو هغه حکم پلى کېږي چې ته لا د شي څښتن نه يې، له همدې امله د داسې ودانيو د پلور تړون په شريعت کې منع دى.

دا هغه څه دي زه ترجيح ورکوم او الله سبحانه وتعالى تر ټولو عالم او حکيم ذات دى.

**ستاسې ورور، عطا بن خليل ابو الرشته**

**۱۴۱۴ هـ.ق ربيع الاخر ۵ مه**

**۲۰۱۹ م ډيسمبر ۲ مه**